مؤسس: عبدالرووف بېنوا   تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد ورځپانه

شنبه | ۱۸ / محرم الحرام / ۱۴۴۸ هـ ق | ۱۳ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/4 م | خصوصي ګڼه: ۷۶ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۴۷ مه | دوره: اتمه

د ایران مذهبي مشر د جنازې په مراسمو کې د ګډون لپاره د ملا برادر په مشرۍ پلاوی ایران ته سفر وکړ

د اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت خبر ورکړی، چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند نن د ایران د مخکیني مذهبي مشر ایت‌الله علي‌خامنه‌یي د جنازې په مراسمو کې د ګډون په موخه ایران ته په سفر تللی دی.د نوموړي په خبره د ریاست الوزراء له اقتصادي مرستیال سره په دغه سفر کې د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیرخان متقي هم ملتیا کوي.

ملا محمد حسن اخند:

د کابل - جلال‌اباد لویې لارې د دویم لین په بشپړېدو سره به ټرانسپورټي او ټرانزیټي اسانتیاوې رامنځته شي

د افغانستان اسلامي امارت رئیس‌الوزراء ملا محمد حسن اخند، د کابل - جلال‌آباد دویم لین سړک رغنیزې چارې له نږدې لیدلې دي.

رئیس‌الوزراء سره د کابل - جلال‌اباد دویم لین سړک له رغنیزو چارو څخه د لیدنې پر مهال د کابل د سروبي ولسوالۍ اړوند تېزین درې ته په دغه سفر کې د ټولګټو وزیر ملا محمد عیسی ثاني، د ریاست‌الوزراء مقام د دفتر عمومي رئیس ډاکټر ملا عبدالواسع او یو شمېر نورو امارتي مسئولینو ملتیا کوله . . . ۳ مخ

د افغانستان او ایران پر دوه اړخیزو اړیکو او سیمه ییزو مسایلو خبرې وشوې

د افغانستان اسلامي امارت د بهرنیو چارو وزیر مولوي امیر خان متقي د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو له وزیر ډاکټر سید عباس عراقچي سره په تهران کې کتلي دي.

په دې کتنه کې د افغانستان او ایران د دوه اړخیزو اړیکو، د همکاریو پراختیا او سیمه‌ییزو مسایلو په اړه خبرې شوې دي.

د بهرنیو چارو وزارت ویاند عبدالقهار بلخي، په خپله «ایکس» ټولنیزه شبکه کې لیکلي دي: »د هېواد د بهرنیو چارو . . . ۳ مخ

سرلیکنه

د ګډو ګټو نوی پړاو؛ کابل او تهران اقتصادي اړیکې پیاوړې کوي

د هېوادونو ترمنځ اقتصادي اړیکې مهمې دي او دا اړیکې هغه وخت دوامداره کېږي چې د متقابل اعتماد، واقعي اړتیاوو او ګډو ګټو پر اساس ولاړې وي. همدا اصل د سیمې اقتصادي معادلې بدلوي او د اوږدمهاله همکاریو لپاره قوي زمینه برابروي. په کابل کې د څه باندې ۲۰۰ افغان او ایراني سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو اقتصادي غونډه هم د همدې بدلون څرګندونه کوي او دا په ډاګه کوي چې د افغانستان او ایران اقتصادي اړیکې ورځ تر بلې پراخېږي.

د ایران سفارت په کابل کې د څه باندې ۲۰۰ افغان او ایراني سوداګرو، صنعتکارانو او پانګوالو په ګډون اقتصادي غونډه جوړه کړه. په دې غونډه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو پر پراختیا ټینګار وشو او د خصوصي سکټور ترمنځ درې د همکاریو تفاهم‌لیکونه هم لاسلیک شول. دا ډول عملي ګامونه ښیي چې دواړه لوري غواړي خپلې اقتصادي اړیکې له خبرو څخه عملي همکاریو ته ورسوي.

د وروستیو کلونو تحولاتو یو حقیقت لا روښانه کړی دی چې افغانستان او ایران د ګاونډیتوب، سوداګرۍ او اقتصادي همکاریو پراخ ظرفیتونه لري. الحمدلله، نن افغانستان داسې امنیتي او اقتصادي چاپېریال لري چې د سیمې هېوادونه په ډاډ سره د پانګونې، سوداګرۍ او صنعتي همکاریو لپاره مخه ورته کوي. د اقتصادي پلاوو پرله پسې سفرونه، د پانګوالو لېوالتیا او د تفاهم لیکونو زیاتوالی د همدې وضعیت څرګندې نښې دي.

د سیمې وروستیو کړکېچونو هم د ګاونډیانو ترمنځ د اړیکو اهمیت لا زیات روښانه کړی دی. د ایران او اسراییلو ترمنځ وروستۍ جګړه او له هغې سره تړلي سیمه‌ییز وضعیت دا حقیقت څرګند کړ چې د سیمې هېوادونه د خپلو ګاونډیانو له ثبات او همکارۍ څخه سترګې نه شي پټولای. افغانستان د خپل اعلان شوي سیاست له مخې د متوازن تعامل او ښه ګاونډیتوب دریځ خپل کړی او له ایران سره یې اړیکې د متقابل احترام او همکاریو پر بنسټ رواني ساتلې دي.

همدا لامل دی چې نن د دواړو هېوادونو اقتصادي اړیکې د باور په فضا کې مخته ځي. سوداګریزې ناستې، د خصوصي سکټور پراخ ګډون او د نویو همکاریو رامنځته کېدل دا څرګندوي چې د افغانستان او ایران ترمنځ اقتصادي تعامل د پیاوړتیا په حال کې دی او دواړه لوري هڅه کوي دا بهیر لا پراخ کړي.

افغانستان په تېرو کلونو کې دا هم ثابته کړې چې له نورو هېوادونو سره د درناوي، صداقت او متقابلې همکارۍ اړیکې غواړي. د اسلامي امارت تګلاره له پیل څخه روښانه ده؛ له ټولو هېوادونو سره د اسلامي اصولو، ملي ګټو او متقابل احترام په چوکاټ کې د ښو اړیکو غوښتنه کوي. دا سیاست د دې سبب شوی چې د سیمې ګڼ هېوادونه له افغانستان سره اقتصادي او سیاسي تعامل ته لېوالتیا وښیي.

تجربو دا هم ښوولې چې هر هغه هېواد چې له افغانستان سره یې د متقابل احترام او رښتیني همکارۍ اړیکې جوړې کړې، د ګډو همکاریو فرصتونه یې موندلي دي.

د کابل وروستۍ اقتصادي غونډه یوازې د درېیو تفاهم لیکونو تر لاسلیک پورې محدوده نه ده، دا د سیمه‌ییز اقتصادي باور، د خصوصي سکټور د فعالېدو او د افغانستان او ایران د اقتصادي اړیکو د نوي پړاو څرګندونه کوي. که دا لړۍ همداسې دوام ومومي، د دواړو هېوادونو ترمنځ به سوداګریزې، صنعتي او پانګیزې همکارۍ لا پراخې او پیاوړې شي.

ترکي پانګوال افغانستان کې د برېښنا تولید په یو نوي میتود پانګونه کوي

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ملا عبدالحق همکار، د ترکیې «NKY» شرکت له مسئولینو سره په کتنه کې؛ د برېښنا تولید او تاسیساتو پر جوړولو د پانګونو په اړه خبرې کړې دي، چې په ترڅ کې ترکي پانګوال افغانستان کې د برېښنا تولید په یو نوي میتود پانګونه کوي.

د افغانستان برېښنا شرکت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په دې کتنه کې ملا عبدالحق همکار د یاد شرکت د پانګونې هرکلی کړی او ډاډ یې ورکړی، چې په افغانستان کې د برېښنا په ګډون ګټو رغنیزو پرمختیایي برخو کې پراخې اسانتیاوې برابرې شوې او پانګه وال کولی شي په ډاډه زړه پانګونه وکړي.

دغه راز د (NKY) شرکت مرستیال «هاقان بوس» ویلي چې دوی د نړۍ په ۲۰ هېوادونو کې د برېښنا تولید تاسیساتو جوړولو او نوې کېدونکې انرژۍ پر تولید پانګونه کړې، چې اوس غواړي په افغانستان کې د برېښنا تولید، د تاسیساتو بیارغونې او له خځلوڅخه د برېښنا تولید په برخو کې پانګونه وکړي.

دا په داسې حال کې ده چې په تېرو شاوخوا پنځو کلونو کې افغانستان کې د برېښنا او تجهیزاتو تولید په برخو کې ګڼ شمېر کورنیو او نړیوالو پانګه والو پانګونه کړې او دا لړۍ د هرې ورځې په تېرېدو سره د پراختیا په حال کې ده.

شیخ عبدالرحمن منیر؛ په کابل کې د اندونیزیا د سفارت له سکرتر سره لیدنه کړې

د کورنیو چارو وزارت د نشه‌يي توکو پر وړاندې د مبارزې مرستیال شیخ عبدالرحمن منیر، په کابل کې د اندونیزیا سفارت له سکرتر سره لیدنه کړې ده.د اندونیزیا سفارت سکرتر ویلي، د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې د اسلامي امارت د بریالۍ تجربې په اړه یوه هر اړخیزه علمي څېړنه ترسره کړې.

په همدې حال کې شیخ عبدالرحمن منیر ویلي، چې د نشه‌يي توکو پر وړاندې مبارزې په برخه کې د افغانستان تجربه د نورو هېوادونو لپاره د اغېزمنې بېلګې په توګه کارېدلی شي.

د وزیر محمد اکبر خان د تخصصي او ثالثي روغتون د جوړولو چارې بیا پیل شوې

اداري چارو معین قاري عبدالولي صدیقي وویل: د وزیر محمد اکبر خان تخصصي او ثالثي روغتون د یوې څلور پوړیزې ودانۍ د جوړولو چارې چې له تېرو شپږو میاشتو راهیسې نیمګړې پاتې وې؛ د عامې روغتیا وزارت له لوري د ۴۰ میلیونه افغانیو په مالي لګښت بیا پیل شوې.

هغه زیاته کړې چې په دې ودانۍ کې به مجهزې عملیات خونې، پرمختللې تشخیصیه څانګه او معیاري بسترونه فعال شي چې په فعالیت سره به یې د روغتون روغتیایي خدمتونو کیفیت لوړ او

د عامې روغتیا وزارت له لوري د وزیر محمد اکبر خان د تخصصي او ثالثي روغتون د نیمګړې ودانۍ د جوړولو چارې بیا پیل شوې.

د عامې روغتیا وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې په همدې مناسبت جوړو شویو مراسمو کې د عامې روغتیا وزارت د مالي او

بازدید هیئت وزارت تجارت از چین؛ تأکید بر گسترش همکاری‌های اقتصادی و حمایت از تاجران افغان

هیئت وزارت صنعت و تجارت افغانستان، به ریاست مولوی شهاب‌الدین ثاقب، معین این وزارت، پس از سفر رسمی به جمهوری خلق چین، به کشور بازگشت. وزارت صنعت و تجارت، با پخش خبرنامه‌یی می‌گوید که این هیئت، به دعوت رسمی دولت چین و با هدف گسترش روابط تجاری و اقتصادی، معرفی فرصت‌های سرمایه‌گذاری افغانستان، جلب سرمایه‌گذاری خارجی و تقویت همکاری‌های اقتصادی منطقه‌یی، در نمایشگاه «چین-اوراسیا ۲۰۲۶» و نشست مالی برگزارشده از سوی دولت چین شرکت کرد.

در ادامه این سفر، هیئت وزارت صنعت و تجارت، به شهر آیوو نیز رفت و با شماری‌از تاجران افغان مقیم چین دیدار کرد. در این دیدار، مشکلات، پیشنهادها و دیدگاه‌های تاجران مورد بررسی قرار گرفت. مولوی شهاب‌الدین ثاقب، معین وزارت صنعت و تجارت، به تاجران اطمینان داد که مشکلات و پیشنهادهای آنان از طریق مجاری رسمی . . . ۳ مخ

افغانستان او جاپان د طبیعي پېښو د مخنیوي په برخه کې د ګډې همکارۍ پر پیاوړتیا خبرې کړې

له پېښو سره د مبارزې ادارې لوی رییس ملا نورالدین ترابي په افغانستان کې د جایکا (JICA) له رئیس توساکا سوتا او مل پلاوي سره لیدنه کړې.

له پېښو سره د مبارزې ادارې اداره وایي، چې دې لیدنه کې د پېښو د خطرونو د مدیریت، د وقایوي پروژو د پلي کولو، د اقلیمي بدلونونو د اغېزو کمولو او د ماین پاکۍ د پروګرامونو په اړه د دوه اړخیزو همکاریو پر پراختیا خبرې شوې دي.

ښاغلي ترابي د بشري مرستو او عام‌المنفعه فعالیتونو پر غیرسیاسي ماهیت د ټینګار ترڅنګ، له نړیوالو بنسټونو، همکارو موسسو او تمویلونکو غوښتي چې د بېړنیو مرستو سربېره، د وقایوي پروژو او د پېښو د خطرونو د کمولو . . . ۳ مخ

په پاکستان کې حاکمیت په پنجاني فاشیزم پرمخ روان دی، نه په عدالت

حیات الله حلیم

حاضرحال په پاکستان کې د بې عدالتیو له وجې په لسګونو داسې وسلوالې ډلې را پیدا شوي، چې د پاکستان امنیت ته یې ګواښ تکیه کړې، نه یوازې وسلوالې ډلې بلکې له بې عدالتۍ سره مخ یو شمېر داسې قومونو هم سر را پورته کړی، چې حقوق یې د پنجاب د ریاست د تبعیض له وجې په ښکاره تر پښو لاندې شوي دي او غږ یې څوک نه اوري، نوځکه له دوی څوک یې بیلتون غواړي، څوک د عدالت او د معنوي ارزښتونو د تحقق په خاطر په رژیم کې بدلون. همدا اوس نه یوازې پاکستاني ملت ته، بلکې ټولې نړۍ ته ثابته شوې، چې حاکمیت په پاکستان کې په داسې پنجاني فاشیزم پرمخ روان دی چې د [پاکستان اسلامي جمهورت] له عنوان سره سل سلنه په تضاد کې دی ځکه نوم یې اسلامي جمهوریت دی؛ خو قانون د انګریز په کې چلېږي او له خپل رعیت سره یې داسې تبعیضي چلند غوره کړی چې هېچا ته خپل مشروع حق نه ورکوي. څه یې چې زړه وغواړي د دریو نورو صوبو په وګړو یې تطبیق کوي، نه یوازې تبعیضي چلند او ښکاره بې عدالتۍ، بلکې د نورو صوبو خصوصا د بلوچستان او صوبه سرحد د کاني او زېرمو شریانونه یې هم د خپلو حریصو خولو په لور ورسیخ کړي او وینې یې زبېښي. څوک د اعتراض حق هم نلري، همدا وجه ده چې د پنجابي فاشیست وزمه رژیم په وړاندې په صوبه سرحد او صوبه بلوچستان کې د بلوچو او پښتنو نارضایتیو شکل موندلی. په صوبه بلوچستان کې د بلوچانو نهضت د خپل حق د تحقق لپاره په بالفعل وسلوالو تحرکاتو لاس پورې کړی او پنجابۍ فاشیزم یې د عدالت پر پوله نیغ درولی دی، هره وسلواله ډله او هر قوم له خپل ځانه داسې موجه دلایل لري چې په اورېدو یې ښيي بشپړ سمسکی رامنځ ته شي؛ خو پنجابي ریاست یې نه مني همدا وجه ده چې په صوبه بلوچستان او صوبه سرحد کې د ناامنۍ اورونه بل دي. تر ټولو مهمه او د حیرانتیا خبره دا هم ده چې پنجابي ریاست د دې پرځای چې دا اورونه په سیاسي تدبیر او تدبر د روغې جوړې له لارې خاموش کړي، نظامي تقابل یې غوره ګڼلی؛ خو پرته له دې چې ځان رسوا کړي کوم بریالیتوب یې هم نه په برخه کېږي.

له کوم وخت نه چې په پاکستان کې ناامنۍ را منځ ته شوې، لکه مخکې چې وویل شول پنجابي صوبدارانو له نظامي تشدد پرته خپلومخالفینو ته د روغې جوړې کوم وړاندیزهم نه دی کړی، ځکه وجدان یې دا تقاضا نه کوي چې له خپل رعیت سره د ټولنیزعدالت د تامین لپاره د خبرو میزته کېني.

کېدای شي په صبر، حوصله او ذغم د مخالفینو د وړاندیزونو په اورېدلو او منلوسره داسې سمسکی رامنځته شي چې په یاد ملک کې د دایمي امن سبب شي؛ خو ښکاره ده چې دوی دا موضوع خپل سیاسي کسرشان ګڼي، نوځکه یې د حق په اورېدلو غوږونه کاڼه دي.

وسلوال تشدد هېڅکله د حل لاره نه ده. د دې پرځای چې د تشدد له لارې کومه ګټه ترلاسه شي، موضوع برعکس د پنجابي دیکتاتور رژیم په ضد د مخالفو ډلو د عزم او ارادې د داسې قوي کېدو سبب کېږي، چې همدا اوس یې هم له پنجابي ریاست نه سمه لاره ورکه کړې ده.

جالبه دا ده چې دوی خپل ملت ته د مخ روڼي په خاطرد وسلوالو ډلو ملاتړ په ګاونډیو هېوادونو هند او افغانستان ورپلمه کوي. هند ته خو یې زور نه رسېږي؛ خو په افغانستان کې بیا په ډېره لوړه بې غیرتۍ بېګناه نر، ښځې او ماشوم په نښه کوي او شهیدان کوي. په دې توګه دا خونړی عملکرد خپل ملت ته په مخالفینو د بریالیتوب د سند په توګه ځلوي چې دا یې په لا ضلالت دلالت کوي؛ ځکه اوس نه یوازې پاکستانی ملت بلکې ټوله نړۍ په دې پوهېدلې چې دا په اوږد مهال کې د پاکستان لپاره هېڅکله د حل لاره نه شي جوړېدای او نه هم د دوی د مخالیفینو روحیه ټکنۍ کېدای شي. دوی باید خپلو داخلي ستونزو ته اساسي حل لاره ولټوي او له هغه فورمول څخه کار واخلي چې د امنیت د تامین اوږد مهالی بریالیتوب یې پکې نغښتی وي، که دوی د افغانانو په بمبارولو خپل ملت ته مخ روڼی کوي، دا مخ روڼی نه، بلکې د مخ توروالی دی. که دوی افغانان ټول ختم هم کړي، دوی ته کومه ګټه نه رسوي او ستونزه یې په ځای پرته ده، ځکه منشا یې له حق تلفۍ، ظلم، بې عدالتي او تبعیض څخه سرچینه نیولې ده. له بل اړخه، که دوی فکر کوي کوم عملکرد چې دوی د افغانانو په ضد پکاراچولی، دا به ګټه ولري او په ملک کې به یې امن راشي دا د دوی هغه تیروتلی فانتزي ده چې کودن ماشوم به یې هم ورسره ونه مني. دا هم ښکاره خبره ده چې د دوی مخالفین په بې ګناه افغانانو د بمبارونو له وجې لا پسې خوشحاله کېږي، ځکه د پنجابي رژیم به د نړیوال ضمیراو وجدان په محکمه کې ممتري، ظالمان او لار ور کې معرفي کېږي او نړیوال ذهنیتونه یې په مقابل کې په مطلق ډول اسرائیلي ګمان خپلوي.

د خپلو خبرو په وروستیو کې یو ځل بیا دې ټکي ته اشاره کوو چې له خپلو مخالفینو سره د دوی تشدد هېڅکله د حل لاره نه ده، ځکه هېچا په تشدد ډګر نه دی ګټلی. د بېلګې په توګه د اور سزا اوبه دي؛ خو تاسې به لیدلي وي آهنګرچې په کره کې سرې اوسپنې ته اوبه ورکړي اوسپنه لا پسې سختېږي او کلکېږي، موږ دوی ته توصیه نکوو نه د توصیې حق لرو؛ خو نړیوالو تجربو ثابته کړې چې په تشدد هېچا ډګر نه دی ګټلی، په خبرو اترو کې نرمه غاړه چاره نه وړي، ښه به دا وي چې دوی له خپلو مخالفینو سره د خبرو اترو په ټغر خپلې ستونزې حل کړي او په نورو هېوادونو بمبارۍ ونکړي.

که د افغانستان تاریخ په غورمطالعه کړو، افغان واکمنو د تاریخ په اوږدو کې تل د خپلو زمانې مخالفینو سره نرمښت ښودلی، له هغوی سره یې دروغې جوړې او خبرو اترو دروازې خلاصې پرې ایښې دي. دا چې منل شوی یا رد شوی تاریخ پرې ګواه دی. اسلامي امارت همدا اوس لودیځ ته د تښتېدلو افغانانو د بېرته د را ستنېدو لپاره یو کمیسون جوړ کړی او د دوی امنیت ته یې داسې کانګریتي شرایط وضع کړي چې هېڅوک نشي کولای. د دوی دروازه ور ټک ټک کوي، له ملت سره عدالت دې ته وایي.خو اصله او محوري خبره دا ده چې پاکستان هېڅکله له خپلو مخالفینو سره د خبرو اترو لپاره د سولې ټغر نه غوړولی او نه به یې په راتلونکې کې وغوړوي، نو ځکه پنجابي ریاست تل د برترۍ غوښتنې پر بنا له نورو قومونو سره چلند اوعمل کوي، چې سرآنجام دا د بریالیتوب لاره نه، بلکې هغه کږه او خطرناکه لاره ده چې انتهی یې د یاد ملک د سیاسي، نظامي او وجودي انقراض په لور تللې ده.

د اوبو مهار او زیرمې کولو لپاره دبندونو جوړول غوره ګام دی

شاه محمود درویش

د ګران هېواد د طبیعي اوبو د ښه مدیریت په هکله له شک پرته ډېره اړینه بریښي چې؛ په لنډمهال، منځ مهال او اوږد مهال کې لازم تدابیر ونیول شي او هم پردغې برخې ډېره پانګونه وشي، همداراز د هېواد په مختلفو ولایتونو کې هم باید دشته بهانده او څپانده سیندونو اوبه باید په منظم ډول مهاراو مدیریت شي او په ټوله کې د هېواد له اوبو څخه دې لازمه ګټه واخیستل شي او مهار دې کړل شي، افغانستان چې یو کرنیز هېواد دی د زراعتي ځمکو په منظم ډول د خړوبولو په برخه کې دې هم ترینه ښه او لازمه ګټه پورته شي، البته دې ټکي ته موباید پام وي چې له نیکه مرغه اوس مهال د افغانستان اسلامي امارت د مسوولو ارګانونو له خوا دهېواد د بیلابیلو ولایتونو په اړوندو سیمو کې د ډول ډول پروژو د تطبیق ترڅنګ د بهانده او څپانده سیندونو د اوبو د کنټرول او سالمه استفادې په موخه د بندونو، چکډېمونو او کانالونو جوړولو او رغولو چاروته هم یوځه پاملرنه ور اوښتې ده او په دې موخه ډېری کوښښ داسې دی چې په هېواد کې دننه د شته سیندونو اوبه په ښه توګه مهار او د ګرانو هېوادوالو دښې استفادې وړ وګرځي، چې واقعاً دا یو ډېر مثبت اقدام او غوره ګام دی.هېره دې نه وي چې په دې وروستیو کې د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا ریاست مسئولینو ویلي؛« چې د دغه ولایت په سپین بولدک، ارغستان، خاکریز و ارغنداب ولسوالیو کې د ۳۰۰ زره امریکایي ډالرو په ارزښت د اوبو د مهار لپاره د څلورو کوچنیو بندونو د جوړولو چارې پیل شوې دي. د مسئولینو په خبره، دغه بندونه به له تخنیکي معیارونو سره سم په هغوسیمو کې جوړ شي، چې د سېلابونو او وچکالۍ له امله یې ډېر زیان لیدلی دی. د کندهار د کلیو د بیارغونې او پراختیا رئیس په وینا: دغه د اوبو څلور کوچني بندونه، چې درې سوه زره امریکایي ډالر لګښت پرې راځي، د کندهار په ارغنداب، سپین بولدک، ارغستان او خاکریز ولسوالیو کې جوړېږي او خلکو ته به په بېلابېلو برخو کې ګټه ورسوي. موږ د لویو بندونو د جوړولو لپاره هم کار پیل کړی، ترڅو کرنه پیاوړې، حاصلات زیات او د وچکالۍ اغېزې راکمې شي.»د یادونې وړ ده چې د دغو بندونو جوړېدو د کندهار د لرې پرتو ولسوالیواوسېدونکو ته د لنډمهالو کاري فرصتونو زمینه هم برابره کړې ده. له شک پرته چې د اوبو مهار دغه بندونه به د اوبو د زېرمه کولو او ښه مدیریت زمینه برابره کړي، د کرنې لپاره به اړینې اوبه برابرې کړي، د زراعتي حاصلاتو په زیاتوالي کې به مرسته وکړي او د څښاک پاکو اوبو ته به د خلکو لاسرسی هم زیات کړي.

البته په دې وروستیوکې د اوبو او انرژۍ وزارت مسؤلینوهم ویلي؛چې په کور دننه د اوبو د مهار او زیرمې کولو لپاره یې ګڼ شمېر پروژې تر کار لاندې نیولي تر څو ور سره د اوبو مدیریت په غوره ډول تر سره شي، د هېواد په څو ولایتونو کې لوی او کوچني بندونه، سربندونه او کانالونو پروژې د کار لاندې دي چې د بشپړېدو سره به یې د اوبو په مدیریت او مهار کې اغېزمن ګامونه پورته شي.همداراز د اوبو مدیریت په هکله اقتصادي کارپوهان هم په دې نظر دي چې د اوبو بندونو او زېرمې کولو سره دهېواد زراعت پیاوړی کېږي، دبرېښنا تولید زیاتیږي او هېواد مو د وچکالۍ له ګواښونو څخه ژغورل کېږي. البته اوسمهال افغانستان د اوبو د مدیریت لپاره د پام وړ تاسیسات نه لري؛ خو د کال په مختلفو فصلونو کې ورښتونو ته زیاته اړتیا لري، د اوبو او انرژي وزارت د سطحي اوبو د مهار او زېرمه کولو لپاره ګڼ شمېر پروژې په کار اچولي چې له جملې یې لوی او کوچني بندونه، سربندونه او کانالونه دي چې د ګټې اخیستنې سره د اوبو په مدیریت کې اغېزمن ګام پورته کېږي.دغه راز د اوبو د مدیریت کارپوهان هم په دې باور دي؛ چې د اوبو زېرمه کول او ورته بندونه جوړول؛ د زراعت په پیاوړتیا، برېښنا تولید او وچکالۍ د مخنیوي په برخه کې بنسټیز اقدامات دي. همدراز د اوبو مدیریت د چاپېریال، پایداره اقتصاد او دځمکې لاندې اوبو په ډېروالي کې مرسته کوي او د ټولنې ستونزې ور سره حل کېږي. همداشان د بندونو جوړول د اوبو په مهار اوسیلابونو مخنیوي کې اړین رول تر سره کوي او ور سره د څښاک پاکو اوبو زېرمې هم ډکې کېږي. بناً قدرمن هېوادوال هم کولای شي چې د جزبي څاه ګانو په ایستلو او د شنو ساحو د خړوبولو لپاره د ویالو او لښتیو له اوبو په ګټې اخیستنې سره د اوبو په زېرمه کولو کې خپل مسؤلیت تر سره کړي او د لرو پرتوسیمو اوسېدونکي هېوادوال دې د سولر په وسیله اوبه نه راوباسي او پر ځای دې د سطحي اوبو څخه ګټه پورته کړي.

بناً دې ټکي ته موباید پام وي چې د اوبو مدیریت« د اوبو د مهار او زیرمې کولو لپاره د مؤثرو اقداماتو په لاره اچول» په افغانستان کې د کرنیزې ودې لپاره یوه جدي اړتیا ده، ځکه ډېرې اوبه د کانالونو د نشتون او یا هم د اوبو د ناسمو وېشلو له امله ضایع کېږي، نو د خلکو داړتیاوو په پام کې لرلو سره د هېواد په مختلفو ولایتونو کې د کوچنو او ستروبندونو، سربندونو او کانالونو جوړول او رغول به نه یوازې د اوبو ضایعاتو مخه ونیسي، بلکې د اوبو په سمه وېشنه کې به هم مرسته وکړي او دا به د سیمې بزګرانو ته اجازه ورکړي، چې خپلې کرنیزې ځمکې په مؤثر ډول وکاروي او زیات تولیدات ترینه ترلاسه کړي، سربېره پر دې، د کوچنو او ستروبندونو، سربندونو او د کانالونو د جوړولو پروژې به د سیمې خلکو ته د کار نوي فرصتونه هم رامنځته کړي، ځکه د کرنیزو پروژو پلي کېدل او د اوبو د مدیریت سیستمونه تل د خلکو لپاره د کار زمینه برابروي او د اړوندو سیمو خلکوته ګڼ شمېر فرصتونه هم رامنځته کوي، چې دا په حقیقت کې د وزګارتیا د کچې په راټیټېدو او د خلکو اقتصادي وضعیت په پیاوړتیا کې هم مثبته اغیزه لري.

افغان اعلانات

اطلاعیه اجاره دهی

مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه، ریاست اجاره دهی، ریاست عمومی اراضی موازی ۴۹۰ جریب و چهار بیسوه زمین واقع ساحه عینک فصل ولسوالی ناوه ولایت هلمند تثبیت نموده و آماده اجاره دهی به طور طویل المدت به منظور کشت زراعت، با حد اقل اجاره مجموعی مبلغ ۳۵۳۰۸۸ سه لک و پنجاه و سه هزار و هشتاد و هشت افغانی طور طویل المدت مطابق قانون اجاره دهی زمین های امارتی به اجاره میدهد. داوطلبان و شرکت های که ثابت نمایند اهلیت حقوقی، اهلیت و لیاقت مسلکی و تخنیکی منابع مالی، تجهزات و کارکنان فنی برای اجرات قرار داد و تجربه مربوط در موضوع فوق الذکر را داشته باشند الی ۷ یوم دوباره بعد از نشر اعلان با درخواست های خویش به مدیریت عمومی ترتیب شرطنامه، آمریت اجاره دهی و سرمایه گذاری طویل المدت، ریاست عمومی اجاره دهی مراجعه نمایند.

فورمه های لازم اجاره دهی را همراه با شرطنامه از تاریخ ۱۴۴۸/۱/۱۶ الی ۱۴۴۸/۱/۲۳ از مدیریت ترتیب شرطنامه، ریاست عمومی اجاره دهی و سرمایه گذاری زمین، ریاست عمومی اراضی واقع ناحیه هفتم، مقابل قصر دارالامان، کابل - افغانستان اخذ نمایند.

مجلس مزایده که در حضور داشت داوطلبان واجد شرایط به تاریخ / /۱۴۴۸ ساعت قبل از ظهر در تالار جلسات ریاست عمومی اراضی تدویر می گردد اشتراک نمایند البته آفرهای ناوقت رسیده بعد از ضرب الاجل تعین شده رد می گردد. ۳۱۷۹

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سردار فرزند امیر جان یک عراده موتر پلیت ۲۳۵۵۵-۶ ش کابل نوع تیوتا لندکروزر زرهی جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای فضل الرحمن فرزند احسان الله بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۱۶۴

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم سردار فرزند امیر جان یک عراده موتر پلیت ۲۱۳۳-۶ ش کابل نوع تیوتا لندکروزر زرهی جاپانی خویش را بعد از طی مراحل قانونی خرید و فروش بالای فضل الرحمن فرزند احسان الله بفروش رسانیده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه یوم به مدیریت ترافیک کابل اطلاع دهند. ۳۱۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه ترجمه انگلیسی تولد کارت به اسم غلام سخی فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۷۵

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه سیزدهم برچی به اسم حسین علی فرزند عوض علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز صنفی دکان نمبر ۰۹۵۴۶-۱۱ به اسم وحید الله فرزند گل آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۸۱

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث عنوان تجارتی مکتب خصوصی شهر نمبر ۳۸۰۷۰ به اسم شهلا عظیمی بنت محمد سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتاچه صفایی خانه واقع ناحیه اول به اسم صوفی سید محمد فرزند نیازمحمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۷۱

اطلاعیه مفقودی

یک جوره پلیت و یک جلد جواز سیر واسطه نوع (تیوتا هایلکس صرف) مودل (۱۹۹۸) دارای نمبر پلیت (۹۴۶۷۲) ش کابل مربوط ریاست ورکشاپ شاروالی کابل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۳۱۶۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم فریدون قناوزیری فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۱۹۷

د عامې روغتیا وزارت په کابل کې د هوا ککړتیا د کمولو په موخه نظارت ترسره کړ

د عامې روغتیا وزارت د چاپېریال روغتیا ریاست د هوا ککړتیا د تنظیم او کمولو امریت کارکوونکو په کابل ښار کې له بېلابېلو ملکیتونو څخه د تنفسي ناروغیو مخنیوي او د هوا پاکوالي په موخه نظارت ترسره کړ.

د دې نظارت په ترڅ کې اړوند چک لېستونه ډک او د یادو ملکیتونو مسؤلینو ته د روغتیایي کارتونو اخیستلو په موخه لازمې سپارښتنې ترسره او ژمنه واخیستل شوه، چې له دې وروسته به د لوګي د تصفیې له ماشین پرته فعالیت نه کوي.

همدارنګه، د ملکیتونو مسؤلینو ته روغتیایي پیغامونه، تبلیغاتي پاڼې او د هوا ککړتیا د کمولو لایحه تشریح او ووېشل شوه؛ ترڅو خپل فعالیتونه د عامې روغتیا وزارت له معیارونو سره سم عیار کړي.

په میدان وردګو کې سلګونه کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې

په میدان وردګو کې د اوبو رسولو دوو شبکو په ګټې اخیستنې سره، شاوخوا ۵۰۰ کورنیو ته د څښاک پاکې اوبه برابرې شوې.باختر اطلاعاتي اژانس ته د کلیو بیارغونې او پراختیا وزارت د معلوماتو له مخې ویلي؛ د میدان وردګو د کلیو بیارغونې او پراختیا ریاست له لوري د دغه ولایت په نرخ او دایمیرداد ولسوالیو کې د ۸.۵ میلیونه افغانیو په لګښت؛ د اوبو رسولو دوو شبکو د جوړولو چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته سپارل شوې دي.ویل شوي چې په دغو شبکو کې د ۶۰ او ۳۰ متره مکعب په ورتیا د پاکو اوبو دوو ذخیرو جوړول، د ۲۵۹ شیردانونو نښلول او د ۲۱ کیلو مترو په اوږدوالي د پایپ غځول شامل دي.هېره دې نه وي چې د یادو شبکو د جوړولو په بهیر کې لسګونه کسانو ته د کار زمینه برابره شوې وه او په بشپړېدو سره یې ۵۲۷ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې شوې دي.

د کابل ـ جلال‌اباد . . .

د ارګ په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي چې ملا محمد حسن اخند د یاد سړک له رغنیزو چارو څخه د لیدنې پر مهال د ټولګټو چارو وزارت رهبرۍ، د خصوصي شرکتونو مسؤلین او کارکوونکي وستایل او هغوی ته یې د یاد سړک د چارو د پر وخت او ښه کیفیت سره د بشپړولو په اړه لازمې لارښوونې ورته وکړې.

هغه ویلي چې د دغه سړک د چارو په بشپړېدو سره به د ټرانسپورټي اسانتیاوو، ټرانزېټ، د خلکو د تګ راتګ او د هغو سیمو په اقتصادي پیاوړتیا کې مهم بدلون، اسانتیاوې او پرمختګ راشي.د کابل ـ جلال‌اباد دویم لین سړک د هېواد له مهمو ټرانزېټي او اقتصادي پروژو څخه دی چې په دریو برخو کې جوړېږي. د کابل له لوري د ۳۲ کیلومتره دویمې برخې رغنیزې چارې اوسمهال شاوخوا ۲۰ سلنه کاري پرمختګ لري. د ننګرهار له لوري د ۲۲ کیلومتره لومړۍ برخې چارې هم رواني دي او د دریېمې برخې د سروې او ډیزاین چارې د خصوصي شرکت له لوري دوام لري چې له بشپړېدو وروسته به یې عملي کارونه پیل شي.

د افغانستان او ایران . . .

وزیر د ایران اسلامي انقلاب د پخواني رهبر د شهادت د تسلیت ترڅنګ؛ پر ایران د امریکا او اسرائیلو د یرغل په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریځ بیان کړ او هیله یې څرګنده کړه چې د خبرو اترو روان بهیر به جګړه په بشپړ ډول پای ته ورسوي.»مولوي متقي ویلي چې د افغانستان حکومت او ولس د ایران حکومت او ولس په ګڼو برخو کې څرګندې ګډې ګټې لري.دغه راز د ایران د بهرنیو چارو وزیر د افغانستان اسلامي امارت دریځ ستایلی او د دواړو هېوادونو اړیکې یې مثبت او مخ پر وده بللې دي.عراقچي ویلي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ په ګڼو برخو کې د همکاریو کچه د ستاینې وړ ده او دواړه هېوادونه د همکاریو د پراختیا لا ډېر فرصتونه لري.

افغانستان او جاپان . . .

په برخه کې لا ډېره پانګونه وکړي.

د جایکا رئیس ویلي، د جاپان دولت او خلک تل د افغانستان د خلکو تر څنګ ولاړ دي، خپلو بشري او پراختیایي همکاریو ته به په بېلابېلو برخو کې دوام ورکړي.

بازدید هیئت . . .

پیگیری خواهد شد و این وزارت برای حمایت از فعالیت‌های تجاری و توسعه تجارت آنان، همکاری‌های لازم را ادامه خواهد داد. وزارت صنعت و تجارت همچنان اعلام کرد که مجموعه دیدگاه‌ها، پیشنهادها و مشکلات مطرح‌شده از سوی تاجران افغان در چین، با راهکارهای تقویت روابط تجاری و اقتصادی، بزودی با مقام‌های عالی کشور برای اتخاذ تصمیمات لازم و ارائه رهنمودهای عملی شریک خواهد شد.

د بغلان والي . . .

سرچینې د روبین کالپین له قوله ویلي، که څه هم بغلان کې د یوناما دفتر د مالي سرچینو د کمښت له امله تړل شوی، خو دغه ولایت لا هم د دې ادارې له کاري لومړیتوبونو څخه شمېرل کېږي.هغه زیاته کړې، یوناما به هڅه وکړي، چې بغلان ته د خپلو پلاوو سفرونه زیات او مرستندویه موسسې وهڅوي، څو په دې ولایت کې خپلې بشري او پراختیایي چارې لا پراخې کړي.

فراه کې . . .

له ښاریانو یې وغوښتل، چې د رغنیزو چارو په بهیر کې همکاري وکړي او د پروژې په ساتنه کې خپل مسوولیت ادا کړي.د یادونې وړ ده، چې د دغه سړک په جوړېدو سره به د خلکو د تګ راتګ اسانتیاوې، د ښار ښکلا، د ترافیکو تنظیم او سوداګریز فعالیتونه لا ښه شي.

د غزني والي . . .

واورېدل او ډاډ یې ورکړ چې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د پالیسۍ او شته امکاناتو په چوکاټ کې به د یادو ولسوالیو لومړیتوبونو ته ځانګړې پاملرنه وشي. نوموړي ټینګار وکړ، چې د کرنیزو حاصلاتو د زیاتوالي، د اوبو د اغېزمن مدیریت، د کرنیزو خدمتونو د پراختیا او د دوامدارې کرنې د پیاوړتیا لپاره به عملي او اغېزمن اقدامات ترسره شي.ورسره، ولایتي پلاوي د روانو پراختیایي پروژو له تطبیق څخه هم لیدنه وکړه، د اړوندو ادارو کړنې یې وارزولې او د چارو د لا ښه تنظیم، شفافیت او چټکتیا په موخه یې مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې.

د سفر په پای کې د غزني د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست مشرتابه د سیمې له خلکو څخه د همکارۍ او رغنده وړاندیزونو له امله منننه وکړه او ویې ویل، چې له ولس سره مستقیمه اړیکه، پر وخت میداني ارزونې او د خلکو ستونزو ته رسېدنه د اغېزمنو دولتي خدمتونو د وړاندې کولو اساسي بنسټ جوړوي. همدارنګه ډاډ ورکړل شو، چې د دغه سفر موندنې او وړاندیزونه به د راتلونکو پرمختیایي پلانونو او پروژو د ترتیب او پلي کېدو پر مهال په جدي توګه په پام کې ونیول شي.

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت د کرنیزو خدمتونو د اغېزمنتیا، د بزګرانو او مالدارانو د ستونزو د حل او د پراختیایي پروژو د کیفیت د ښه والي په موخه په بېلابېلو ولایتونو کې د میداني ارزونو، ولایتي سفرونو او له خلکو سره د مخامخ لیدنو لړۍ دوامداره ساتلې، څو د اړتیاوو پر بنسټ د کرنې او مالدارۍ سکټور لا پیاوړی او د هېواد د خوړو خوندیتوب او اقتصادي ودې ته زمینه برابره شي.

پر کیف د روسیې . . .

کې، ښکاري چې د ژغورنې ټیمونه د یوې نهه پوړیزې ودانۍ په کنډوالو کې ګرځي. کیف د پوځي ادارې د مشر تیمور تکاچینکو، په وینا، په دغو بریدونو کې په ټول ښار کې لسګونه ځایونه زیانمن شوي دي. د اوکراین ولسمشر ولودیمیر زیلنسکي، مخکې ویلي ول چې استخباراتي راپورونه د یوې لویې حملې احتمال ښیي او له همدې امله یې ډېلین ته خپل سفر لنډ کړی دی.

پاکستان؛ په یوه . . .

دا چې بس موټر سخت کړوپ شوی دی، د ژغورنې ټیمونو د جسدونو او ټپیانو د راښستلو لپاره له داسې ماشینونو کار اخیستی، چې موټر ټوټه ټوټه کړي. فضل الدین، زیاته کړې، چې مړي او ټپیان په امبولانسونو کې نږدې روغتونونو او کلینیکونو ته لېږدول شوي دي. هغه وویل چې د ځینو ټپیانو حالت خراب دی او اندېښنه لري چې کېدای شي د مړو شمېر زیات شي. د پاکستان د حکومتي شمېرو له مخې، خراب سړکونه، خراب ساتل شوي موټرونه او د ترافیک د خوندیتوب غیر معیاري سیستم له امله هر کال په پاکستان کې زر ګونه کسان خپل ژوند د ترافیکي پېښو له امله د لاسه ور کوي.

د ریاست‌الوزراء . . .

اړیکو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې دواړه هېوادونه دې ټول شته فرصتونه د دواړو ولسونو په ګټه وکاروي. مسعود پزشکیان، له افغانستان سره د اړیکو پراختیا د خپل حکومت لپاره د ځانګړي لومړیتوب لرونکي بللي او ټینګار یې کړی چې دواړه حکومتونه دې له ټولو ظرفیتونو څخه ګټه پورته کړي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند د هېواد د بهرنیو چارو د وزیر مولوي امیر خان متقي په ملتیا؛ د ایران د پخواني مذهبي مشر ایت‌الله علي‌خامنه‌یي د جنازې په مراسمو کې د ګډون په موخه یاد هېواد ته سفر کړی دی.

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: محمدیونس مایار
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، اماراتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنایي بڼه
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٥.٦٠ اف
یو یورو	٧٤.٥٠ اف
یو پوند	٨٥.٢٠ اف
یو درهم	١٧.٨٦ اف
زر ریال	٠٣٨.٠٣٧ اف
زر کلداري	٢٢٦.٢٢٥ اف
زر کلداري	٧٥٠.٧٤٠ اف

د هوا حالات

↑	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزني	↓
٠٤:٤٠	٣٢°C	٣٥°C	٣٧°C	٣٩°C	٤١°C	٤١°C	٣١°C	٠٧:٠٨

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ایران له ولسمشر سره وکتل

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند، د ایران له ولسمشر مسعود پزشکیان سره په تهران کې کتلي دي. باختر اطلاعاتي اژانس ته د ریاست‌الوزرا اقتصادي معاونیت د مطبوعاتي دفتر د معلوماتو له مخې؛ ملا عبدالغني برادر اخوند له پزشکیان سره په کتنه کې د ایران له حکومت او ولس سره د ایران د ستر مذهبي مشر ایت الله علي خامنه‌يي د شهادت د تسلیت ویلو ترڅنګ؛ پر دوه اړخیزو اړیکو خبرې کړې دي.
د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د افغانستان او ایران ترمنځ په ګڼو برخو کې د مشترکاتو یادونه او زیاته کړې یې ده چې دواړه هېوادونه څرګندې ګډې ګټې لري.
ملا عبدالغني برادر اخوند ویلي چې پر ایران د امریکا او اسرائیلو د یرغل په اړه د افغانستان اسلامي امارت دریځ روښانه او ثابت و او دغه برید یې نامشروع ګڼلی او غندلی و.
دغه راز د ایران ولسمشر په خپلو خبرو کې د دواړو ولسونو پر نږدې او دوستانه . . .

٣ مخ

د بغلان والي په شمال او شمال ختیځ زون کې د یوناما له مسؤل سره لیدلي

د بغلان والي مولوي عبدالله مختار یاد ولایت کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د دفتر د بیا پرانیستلو غوښتنه کړې او ویلي یې دي، چې د دغې اداري شتون به د بشري مرستو او پراختیایي پروګرامونو په پیاوړتیا کې مهم رول ولوبوي.
د بغلان د والي ویاند فاروقي خپلواک باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې دغه غوښتنه د یوناما د شمال او شمال ختیځ زون له مسوول روبین کالپین سره د والي د لیدنې پر مهال مطرح شوه.
د بغلان والي په دې لیدنه کې ټینګار کړی، چې د دې ولایت د پراختیایي او بشري پروګرامونه لا پراختیا ته اړتیا لري او د یوناما د دفتر بیا فعالېدل به د نړیوالو مرستو د همغږۍ او د اړینو پروژو د پلي کېدو زمینه لا پیاوړې کړي. . .

٣ مخ

د اماراتي شرکتونو لوی رئیس،
د صنعت اوونۍ پنځم نړیوال نندارتون څخه لیدنه وکړه

کابل کې د صنعت او کانونو د اوونۍ پنځم ملي او نړیوال نندارتون پرانیستل شو، چې پکې د ننګرهار وادي کرنیز اماراتي شرکت هم د خپلو معیاري او شرکتونو لوی رئیس، مولوي احمد جان بلال، له خپل مل پلاوي سره د ننګرهار وادي کرنیز اماراتي شرکت له غرفې څخه لیدنه وکړه. نوموړي د

کورنیو تولیداتو په نندارې او پلور سره فعاله ونډه اخیستې ده.
د دغه نندارتون په ترڅ کې د اماراتي شرکت د تولیداتو، کیفیت او فعالیتونو په اړه معلومات واورېدل او د هېواد د کورنیو تولیداتو د پراختیا، بازارموندنې او ملاتړ پر اهمیت یې ټینګار وکړ.
د ننګرهار وادي کرنیز شرکت په خپله غرفه کې د زیتون معیاري تېل، د زیتون اچار، د نجارۍ فابریکې تولید شوي لرګین محصولات او ګڼ شمېر نور کرنیز او صنعتي تولیدات د لیدونکو او پیرودونکو لپاره نندارې ته ایښي، چې د نندارتون د ګډونوالو له پام او هرکلي سره مخ شوي دي.
د مسؤلینو په وینا، په دې پنځم ملي او نړیوال نندارتون کې شاوخوا ۳۷۰ غرفې جوړې شوې دي، چې د هېواد د بېلابېلو تولیدي او صنعتي شرکتونو محصولات پکې د اوو ورځو لپاره نندارې ته وړاندې کېږي، څو د کورنیو تولیداتو د ودې، بازارموندنې او پانګونې لپاره مناسب فرصتونه رامنځته شي.

فراه کې د ۱۳،۵ میلیونه افغانیو په لګښت
د یوه سړک د جوړولو چارې پیل شوې

د فراه ښاروالۍ مسؤلین وايي، چې د فراه ښار د باختر پله او بابو کنډک ترمنځ د ۱۳.۵ میلیونه افغانیو په لګښت د یوه سړک د جوړولو چارې پیل شوې.د فراه ښاروالۍ تخنیکي او مسلکي امر انجینر شاه محمود جلالي ویلي چې دغه سړک به د ۴۲۰ مترو په اوږدوالي او ۳۰ مترو په سور د درېیو میاشتو په موده کې بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.نوموړي د پروژې د معیاري پلي کېدو داډ ورکړ او. . .

٣ مخ

د غزني والي اته ولسوالیو ته رسمي سفر کې د بزګرو او کروندګرو ستونزې اورېدلي

د غزني ولایت د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست رییس د غزني ولایت د والي ولي جان حمزه په مشرۍ د ولایتي پلاوي په ترکیب د ناور، اجرستان، مالستان، جاغوري، ګیلان، ناوې، مقر او آب‌بند ولسوالیو ته رسمي کاري سفر ترسره کړ، چې موخه یې د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ سکټور د وضعیت ارزونه، د پراختیایي پروژو څارنه او د بزګرانو او مالدارانو ستونزو ته له نږدې رسېدنه وه.
د دغه سفر په ترڅ کې ولایتي پلاوي د یادو ولسوالیو له ولسوالانو، د کرنې مدیریتونو، قومي مشرانو، دیني عالمانو، بزګرانو، مالدارانو او د سیمو له مخورو سره جلا جلا غونډې وکړې.
په دغو غونډو کې د اوبو کمښت، د اوبولګولو شبکو پراختیا، د اصلاح شویو تخمونو او کیمیاوي سرو وېش، د نباتي ناروغیو او افتونو مخنیوی، د ښوالۍ وده، د مالدارۍ خدمتونو پراختیا، د وترنرۍ خدمتونو پیاوړتیا او د کرنیزو پروژو د اغېزمن تطبیق په اړه هر اړخیزې خبرې وشوې.
د غزني د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ رئیس د بزګرانو او مالدارانو ستونزې، اړتیاوې او وړاندیزونه . . .

٣ مخ

سرحدي ځواکونو لسګونه ټنه نشه يي توکي نیولي دي

د کورنیو چارو وزارت، د سرحدي ځواکونو لوی ریاست د منسوبینو له لوري د تېرې یوې اوونۍ په بهیر کې د نشه‌يي توکو د کشف او د لسګونو تنو د نیولو خبر ورکړی دی.
د یاد وزارت په خپره شوې خبرپاڼه کې راغلي دي: «د سرحدي ځواکونو لوی ریاست منسوبینو د تېرې یوې اوونۍ په ترځ کې د کشفي عملیاتو په پایله کې د کندهار په نړیوال هوايي ډګر کې درې زره او ۱۱۰ کیلوګرامه ومان بوټي چې د نشه‌يي توکو په پروسس کې کارول کیږي؛ کشف او ضبط کړي دي. په همدې موده کې د کابل نړیوال هوايي ډګر او د اسلام قلعه او سپین بولدک په کمېساریو کې د بېلابېلو جرمونو په تړاو ۴۵ تنه نیول شوي چې له ډلې یې اته تنه د جعل او تزویر، ۳۲ تنه ایستل شوي (ډیپورټ شوي) کسان او پنځه تنه د نورو جرمونو په تړاو نیول شوي دي.»هېره دې نه وي چې د اسلام قلعه په کمېسارۍ کې د ۹۴۰ میلیونه ایراني تومان د قاچاق مخه هم نیول شوې او یادې پیسې د اصولو له مخې اړوندې مرجع ته سپارل شوې دي.

لغمان کې د کډوالو بار وړونکی موټر سیند ته لوېدلی؛
۱۲ کسان شهیدان او اته نور ټپیان دي

له پاکستانه د راستنېدونکو کډوالو یو ټېلر موټر په لغمان ولایت کې سیند ته لوېدلی چې لږ تر لږه ۱۲ کسان پکې شهیدان شوي او اته نور ټپیان دي. د۲۰۱خالد بن ولید قول اردو چارواکو ویلي، پېښه د کابل - جلال اباد پر لویه لاره د لغمان سرخکان ولسوالۍ خیرو خېلو سیمه کې تېره شپه ناوخته دوولس بجې شوې ده.
د دغه قول اردو ویاند وحیدالله محمدي، رسنیو ته په یوه استول شوې خبرپاڼه کې ویلي «د ژغورنې ځواکونه او مسلکي پرسونل له درنو نظامي وسایلو سره سیمې ته استول شوي دي او تر اوسه یې ۴ جسدونه او ۸ ټپیان له سینده را ایستلي؛ خو ۱۰ کسان لا هم ورک دي».د
هغه په وینا، د موټر ټېلر هم له سینده را ایستل شوی او خوندي سیمې ته لېږدول شوی دی.

بهرني لنډ خبرونه

پر کیف د روسیې بریدونه؛ ۱۳ کسان وژل شوي او په لسګونه ټپیان دي

په کیف کې د استوګنې پر ودانیو باندې د روسیې د توغندیو او ډرون په بریدونو کې لږ تر لږه ۱۳ کسان وژل شوي او تر ۸۰ ډېر ټپیان شوي دي. دا پر اوکراین باندې د شپې له خوا د روسیې له پراخو بریدونو څخه وو. د کیف ښاروال، ویتالي کلیچکو، په ټیلیګرام کې تائید کړې چې په دغو بریدونو کې ۱۳ کسان وژل سوي او ۸۶ نور ټپیان شوي دي. د هغه په وینا، له ټپیانو څخه ۷۰ یې په روغتون کې بستري شوي دي. نوموړي لیکلي دي: «د دارنیتسکي په سیمه کې په یوه زیانمنه شوې ودانۍ کې د لټون او ژغورنې عملیات روان دي.»کلیچکو مخکې ویلي ول چې د ښار په مرکز کې د شیفچینکو پر سړک د یوه هوټل چت اور اخیستی و او د روسیې د یوه توغندي مستقیمي لګېدنې د یوې استوګنیزې ودانۍ د شپږو پوړونو د قسمي نړېدو لامل شوي. د رویټرز خبري آژانس په ویډیوګانو. . .

٣ مخ

پاکستان؛ په یوه بس موټر کې ۴۰ کسان مړه شوي

د پاکستان پولیسو او د ژغورنې چارواکو ویلي دي چې یو ګړندی بس یوې ژورې کندې ته لوېدلی، چې په کې ۴۰ کسان مړه او ۸ نور ټپیان شوي دي. د پولیسو یوه چارواکي علي رضا، د آلمان خبري آژانس ته ویلي دي چې دغه بس د بلوچستان ایالت له کویټې ښار څخه د پېښور پر لور روان و، چې د لارې په نیمایي کې له سړکه اوښتی او یوې کندې ته لوېدلی دی.
د پولیسو یوه بل چارواکي محمد ناصر، ویلي دي چې د دې پېښې احتمالي لامل کېدای شي چټک سرعت وي؛ خو پلټنې به د دې پېښې اصلي لامل معلوم کړي. د ژغورنې ادارې ویاند فضل الدین، یاد خبري آژانس ته ویلي دي . . .

٣ مخ

انفجار در سوریه؛ ۹ کشته و ۲۰ زخمی برجا گذاشت



وزارت داخله سوریه، اعلام کرده که در پی انفجار یک بمب در یک کافه در مرکز شهر دمشق، پایتخت این کشور، ۹ تن کشته و ۲۰ تن دیگر زخمی شده اند. رسانه‌های بین‌المللی به نقل از وزارت داخله سوریه گزارش دادند که این انفجار بر اثر یک وسیله انفجاری دست‌ساز به وزن حدود یک کیلوگرم رخ داده است؛ بمبی که با ترکش‌های فلزی پر شده بود.
تاکنون هیچ گروهی مسئولیت انفجار روز گذشته را بر عهده نگرفته است. با این حال، مقام‌های امنیتی پیش‌تر هشدار داده بودند که داعش در تلاش است از خلأ امنیتی ایجاد شده پس از سقوط حکومت بشار اسد بهره برداری کند.